


ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباډي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی

دوشنبه، د ذوالقعدې ۲۸مه، ۱۴۴٦ هـ.ق کال | مسلسل نمبر: ۹۹ | ګڼه: ۹





د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د جوزا میاشتې په لومړۍ نېټه په لغمان ولایت کې د لس میګاواټه لمریزې برېښنا پروژې د چارو د پیل پرانیسته وشوه. په لغمان ولایت کې د لس میګاواټه لمریزې برېښنا پر پروژه د خصوصي سکټور له لوري شپږ میلیون ډالر پانګونه کېږي، چې د چارو په بشپړېدو سره به یې د سیمې د اوسېدونکو د برېښنا ستونزه تر یوې اندازې حل او صنعتي فعالیتونه به ورسره پراختیا ومومي.

د لمریزې برېښنا تولید د افغانستان لپاره یوه مهمه سرچینه ده چې کولی شي د انرژۍ کمښت پوره، اقتصادي پرمختګ رامنځته او چاپېریال خوندي کړي. د مناسبو پانګونو، تخنیکي وړتیاوو په مرسته، افغانستان کولی شي د لمریزې انرژۍ په برخه کې د سیمې یو مخکښ هېواد شي. همدې اهمیت ته په کتو اسلامي امارت هڅه کوي چې لومړی په کور د ننه د شته سرچینو څخه برېښنا تولید کړي. له دې سرچینو څخه یو هم لمر دی. په افغانستان کې اکثریت ورځې لمریزې وي. له همدې امله د برېښنا د تولید له پاره ډېر مناسب دی. د لمریزې برېښنا ګټې زیاتې دي. لمریزه برېښنا د فوسیلي سون توکو پر ځای پاکه او تجدیدېدونکې انرژي ده، چې د کاربن ډای اکساید تولید کموي او د اقلیمي بدلون د اغېزو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې مهم رول لوبوي. د لمریزې برېښنا پراختیا کولی شي د بهرنیو هېوادونو څخه د برېښنا پر واردولو تکیه کمه کړي، چې دا به د هېواد اقتصادي خپلواکۍ ته وده ورکړي. دغه راز به په دې برخه کې د کورنۍ پانګې ترڅنګ بهرنۍ پانګه هم جذب شي. د لمریزې برېښنا د پروژو په پیل سره به زرګونو کسانو ته کاري فرصتونه رامنځته شي. دا او دې ته ورته ځینې نورې اقتصادي او ټولنیزې ګټې هم لري.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لغمان کې د لس میګاواټه لمریزې برېښنا د پروژې د پرانیستغونډې په مراسمو کې همدې ټکي ته اشاره وکړه او ویې ویل، اسلامي امارت د برېښنا سکټور په برخه کې خودکفایۍ ته د رسېدو په موخه د دې پروژې په څېر مهم ګامونه اخیستي چې دا نه یوازې د برېښنا د تولید؛ بلکې د ملي اقتصاد، کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جلب او جذب، د کاري فرصتونو د ایجاد او هېوادوالو ته د ښو خدماتو وړاندې کولو په برخه کې مهم ګام دی. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د اسلامي امارت اقتصادي ستراتیژي پر دې ولاړه ده څو هېواد له بهرنۍ اړتیا خلاص او د خپلو موجودو کورنیو ظرفیتونو پر مټ یې خودکفایۍ ته ورسوي. دا چې برېښنا د یو هېواد د اقتصادي ودې د ملا تیر بلل کېږي، په همدې موخه د اسلامي امارت د اقتصادي پالیسیو په سر کې ځای لري.

له دې څخه دا په ډاګه کېږي چې اسلامي امارت د انرژۍ په ځانګړي ډول برېښنا د تولید په برخه کې پر کورنیو سرچینو تمرکز کړی دی. د دې سرچینو په کارولو سره به افغانستان په لنډه موده کې نه یوازې د خپلې اړتیا وړ برېښنا پیدا کړي، بلکې بهر ته د صادرولو برېښنا به هم ولري. د دې چارې په ترسره کېدو سره به د هېواد صنعت پراخ او په ټوله کې به افغانستان د پرمختګ په لور روان شي.

## په لغمان ولایت کې د لس میګاواټه لمریزې برېښنا پروژې چارې پیل شوې




۲ صفحه


## د سنو فارما، ملي شفاء او ټي‌جي‌ایل درمل جوړولو فابریکې د معیاري تولید له امله وستایل شوې





۲ مه صفحه


## په سرپل ولایت کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه




۳مه صفحه

اوونيزه
اباډي
هفته‌نامه آبادی
ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

## په لغمان ولايت کې د لس ميګاواټه لمريزې برېښنا پروژې چارې پيل شوې



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د جوزا مياشتې په لومړۍ نېټه په لغمان ولايت کې د لس ميګاواټه لمريزې برېښنا پروژې د چارو د پيل پرانيسته وشوه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت جوړ شوو مراسمو ته وويل، دا د خوښۍ ځای دی چې نن په لغمان ولايت کې د پاکې انرژۍ د توليد په برخه کې يو مهم ګام اخلو، دا به نه يوازې د اقليمي بدلون پر وړاندې د دې سيمې مقاومت لوړ کړي؛ بلکې د پاکې او پايښت لرونکې انرژۍ په برخه کې به هم د هېواد اړتيا تر يو حده پوره کړي.

محترم ملا صاحب زياته کړه، اسلامي امارت د برېښنا سکتور په برخه کې خودکفايي ته د رسېدو په موخه د دې پروژې په څېر مهم ګامونه اخيستي چې دا نه يوازې د برېښنا د توليد؛ بلکې د ملي اقتصاد، کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جلب او جذب، د کاري فرصتونو د ايجاد او هېوادوالو ته د ښو خدماتو وړاندې کولو په برخه کې مهم ګام دی. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، څه موده وړاندې د هېواد په کچه د برېښنا د توليد د اوو مهمو پروژو قراردادونه لاسليک شول چې مجموعي ظرفيت يې څه باندې ۲۲۸ ميګاواټو ته رسېږي. دا د هېواد په کچه د برېښنا د توليد په برخه کې يو بې ساری ګام دی چې دا پروژه يې هم برخه ده.محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لغمان ولايت کې د لس ميګاواټه لمريزې برېښنا پروژې د پيل مراسمو ته وويل، د اسلامي امارت اقتصادي ستراتيژۍ پر دې ولاړه ده، څو هېواد له بهرنۍ اړتيا خلاص او د خپلو موجودو کورنيو ظرفيتونو پر مټ خودکفايي ته ورسېږي. دا چې برېښنا د يو هېواد د اقتصادي ودې د ملا تير بلل کېږي، په همدې موخه د اسلامي امارت د اقتصادي پاليسيو په سر کې ځای لري.

محترم ملا صاحب زياته کړه، د افغانستان ډېره تکيه پر وارداتي برېښنا ده چې دا نه يوازې قيمته تماميږي، بلکې له هېواد څخه په زياته اندازه د اسعارو د وتلو عامل هم ګرځي.

له همدې امله د برېښنا دا ډول پروژې کولی شي چې هېواد په تدريجي ډول د برېښنا په برخه کې خودکفايي ته ورسوي.

په پای کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په هېواد کې د اقتصادي او پانګونې پروژو د پيل او بشپړولو له پاره امنيت تر ټولو مهم وباله او پانګوالو ته يې په دې برخه کې د اسلامي امارت له لوري پوره اطمينان ورکړ. محترم ملاصاحب له پانګوالو وغوښتل چې په افغانستان کې په مختلفو برخو په ځانګړي ډول د برېښنا سکتور کې پانګونه وکړي. اسلامي امارت په دې برخه کې ډېرې اسانتياوې برابرې کړې او د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي. د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت تر چتر لاندې د پانګونې بين الوزارتي کمېټه کوښښ کوي چې په هېواد کې د پانګونې پروسې لنډې او پانګوالو ته اسانتياوې برابرې کړي.

د يادونې وړ ده چې په لغمان ولايت کې د لس ميګاواټه لمريزې برېښنا پر پروژه د خصوصي سکتور له لوري شپږ ميليون ډالر پانګونه کېږي، چې د چارو په بشپړېدو سره به يې د سيمې اوسېدونکو د برېښنا ستونزه تر يوې اندازې حل او صنعتي فعاليتونه به ورسره پراختيا ومومي.

## د سنو فارما، ملي شفاء او ټي‌جي‌ايل درمل جوړولو فابريکې د معياري توليد له امله وستايل شوې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د درملو توليدي فابريکو په ستاينغونډه کې ګډون وکړ. دغه ستاينغونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د ثور مياشتې په ۳۰مه نېټه په عامې روغتيا وزارت کې جوړه شوه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت جوړ شوو مراسمو ته وويل، باکيفيته درمل له صحي اړخه د سالمې انساني ټولنې ضمانت کوي او بې کيفيته درمل بيا د انسانانو روغتيا ته زيان رسوي. په دې برخه کې په پوره اخلاص، ژمنتيا او امانتدارۍ سره د مسووليت ترسره کول د ټولو دخيلو اړخونو اساسي مسووليت دی. محترم ملا صاحب زياته کړه، که په هېواد کې د درملو توليدي فابريکې له ملي او نړيوالو معيارونو سره سم درمل توليد کړي، دا به نه يوازې لويه لاسته راوړنه وي؛ بلکې پر وارداتي درملو به د هېواد تکيه راکمه او په دې برخه کې به موجوده تقاضا په کور دننه پوره شي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، دا چې نن ورځ د درملو د توليدي فابريکو له جملې يوازې دريو فابريکو ته د باکيفيته او معياري توليد له امله له نړيوالو اصولو سره سم د جي‌ايم‌پي سرټيفيکېټونه ورکول کېږي،

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصـادي او تـولنیزو مسایلـو په برخـه کـې
د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اوونیزه
ابادي
هفته‌نامه آبـادی



دا د یادو فابریکو د مسوولینو لپاره ستره لاسته راوړنه ګڼم او له خپله اړخه ورته مبارکي وایم.
محترم ملا صاحب پر وارداتي درملو د افغانســتان تکیه د ملي اقتصــاد په زیان وبلله او ویې ویل، وارداتي درمل له یوه لوري په لوړ قیمت تمامېږي او له بل لوري له هېواد څخه پــه زیاته اندازه د اســعارو د وتلــو عامل هم ګڼل کېږي. دې مهمې اړتیا ته پــه پام یې د درملو له تولیدي فابریکو وغوښتل چې له ملي او نړیوالو معیارونو سره سم د درملو کیفیت او کمیت ته پوره پاملرنه وکړي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالــو ته ډاډ ورکړ چې نور به یې په امارتي ادارو کې د اقتصادي چارو اړوند موضوعاتو پروسې لا ساده، منظمې، چټکې او لنډې شي. محترم ملا صاحب وویل، په دې اړه عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب د چارو ادارې په مشرۍ یوې کمېټې ته دنده ســپارلې؛ څو په دې برخه کې منظم طرزالعمــل جوړ کړي. محترم ملا صاحب له ټولو پانګوالو وغوښتل چې د نورو سکټورونو تر څنګ په صحت سکټور کې هم پانګونه وکړي.




په پای کې د ریاســتالوزراء اقتصادي مرســتیال له ټولو امارتي ادارو وغوښــتل چې د عالیقدر امیرالمؤمنین شــیخ صاحب د حکم مطابق له کورنیو تولیداتو څخه اســتفاده وکړي، خپلو معیاري طبي مصنوعاتو ته اولویت ورکړي او پــه تدارکاتي پړاونو کې دې دغه برخــې ته جدي پاملرنه وکړي. د یادونې وړ ده چې د ســنو فارما، ملي شفاء او ټي جي‌ایل درمل جوړولو تولیدي فابریکو ته د معیاري درملو د تولیــد لــه امله د جي‌ایم‌پي نړیــوال اعتبــار لرونکي سرټیفیکېټونه ورکړل شول. دا هغه سند دی چې له مخې یې بهرنیو هېوادونو ته صادرات کولی شي.

## په سرپل ولایت کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه ترسره شــوه. دغه غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۹ مــه نېټه په مرمرینه کې جوړه شــوه. غونډې ته له اجندا سره سم په سرپل ولایت کې د ښاروالۍ پر ځمکه د



ســوداګریز مارکېټ جوړولو او د جوزجان ولایت قرقین او خم‌اب ولســوالیو ته د برېښنا رســولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې.
له هراړخیز بحث وروسته د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې د نظرونــو په پام کــې نیولو سره په سرپــل ولایت کې د ښاروالۍ پر ځمکه د ســوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تاییــد وړ وبلل شــوه. په دغه ســوداګریز مارکېټ کې د خصوصي ســکټور له لوري ۵۲ میلیــون افغانۍ پانګونه کېــږي چې ټولټال به ٦۲ دوکانونــه ولري. یاده طرحه د منظورۍ په موخه د ریاســتالوزراء اقتصادي معاونیت ته راجع شوه.
د جوزجان ولایت قرقین او خم‌اب ولســوالیو ته د برېښنا رســولو طرحې په اړه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شــوه، څو د یادې طرحې ټول اړخونــه و ارزوي او خپل راپور د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې سره شریک کړي.

# اخبـــــار اقتصــــادی هفـــــته

## از سرگیری پروژه کاسا-۱۰۰۰ در افغانستان؛
### تعهـــــد بـــرشنا به تکمیـــل در دو ســـــال آینـــــده

شرکـت برشـنا می‌گوید پـروژه کاسـا-۱۰۰۰ که بـه دلایل نامشخصی در خاک افغانستان متوقف شده بود دوباره آغاز شده اسـت و به گفته این شرکت کار در بخش نخست این پروژه از سوی شرکت قراردادی شروع شده و به‌زودی فعالیت‌ها در بخش‌های دوم و سـوم آن نیز آغاز خواهد شد. رییس شرکت برشـنا تاکید می‌ورزد کـه این شرکت متعهد بـر اجرای پروژه کاسا-۱۰۰۰ در خاک افغانستان است و در مدت یک‌ونیم تا دو سال آینده تکمیل خواهد شد. عبدالباری عمر، رییس شرکت برشنا، در این باره می‌گوید: «این یک شرکت خارجی است و به ما تعهد کرده که در یک ماه دیگر در داخل کشـور کار فاز دوم و سـوم را آغاز کند و خبر دیگر این اسـت که با روی کار آمدن امارت اسلامی به آغاز این پروژه تلاش‌های زیادی شده است و الحمدالله که کار این پروژه از شـش ماه به این‌سو به سرعت جریان دارد.» آقای عمر اظهار داشـت که در جریان سفر خود به تاجیکستان، با مقام‌های مسـوول از کشورهای پاکستان، تاجیکسـتان و قرغیزستان دیدار و گفت‌وگو کرده است. محور اصلـی این مذاکرات، حـل چالش‌های موجـود در برابر این پـروژه، تسریع روند اجرایی آن، و بررسـی هزینه‌های تکمیل پروژه بوده اسـت. رییس شرکت برشنا، افزود: «کار باقی‌مانده پروژه کاسا-۱۰۰۰ به‌زودی آغاز می‌شود و کار که جریان دارد او هم سرعت پیدا خواهد کرد و کوشش می‌شود که در جریان یک ونیم تا دو سال دیگر این پروژه تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شـود.» از آن‌جایی که کشورهای جنوب آسیا به شدت با کمبود انرژی روبرو اند، کشورهای آسیای مرکزی تلاش دارند تا پروژه هـای زیربنایی از جمله انرژی از طریق افغانسـتان را به این جهت انتقال دهند. پروژه کاسـا-۱۰۰۰ نیز از جمله مهم‌ترین پروژه‌های انتقال انرژی قرغیرسـتان از طریق تاجیکسـتان و افغانستان به پاکستان است.




## عزیزي: له روسیي او چین سره په ډالرو سوداګري پای ته رسوو

د صنعت او سـوداګرۍ سرپرسـت وزیر نورالدین عزیزي ویلي، کابل او مسکو غواړي له دې وروسـته خپله دوه اړخیزه سوداګري د امریکایي ډالرو پر ځای په خپلو ملي پیسو ترسره کړي. عزیزي له رویترز خبري اژانس سره په خبرو کې ویلي، چې د دې موضوع په اړه د روسیې او د افغانستان د اسلامي امارت ترمنځ په لوړه کچه خبرې روانې دي. نوموړي ویلي، چې له روسیې سره دا پرانډیز د دواړو لورو د تخنیکي ډلو تر ارزونې لاندې دی. د نوموړي په خبره، له چین سره سوداګرۍ کې هم د ورته ګام په موخه کابل کې د چین له سفارت سره خبرې روانې دي.



## آغاز بازسازی بخش‌های باقی‌مانده شاهراه سالنگ

وزارت فواید عامه از آغاز بازسـازی بخش‌های باقی‌مانده شـاهراه سالنگ خبر می‌دهد. محمد اشرف حق‌شـناس سخن‌گوی این وزارت، می‌گوید که در حال حاضر مسیر اصلی به‌طور موقت مسدود شـده و تردد وسایط نقلیه از مسیر فرعی انجام می‌شود. سخن‌گوی وزارت فواید عامه گفت: «امسـال نیز کار بازسـازی اساسی شـاهراه سالنگ به‌صورت کانکریت‌ریزی در بخش‌های شمالی و جنوبی سالنگ و همچنین قیرریزی بخش خنجان تا دوشـی آغاز شده و عملاً جریان دارد.» شاهراه سالنگ نقش مهمی در انتقال کالاهای تجارتی با کشورهای همسایه دارد. با توجه به اهمیت این شاهراه، رهبر امارت اسلامی در سـال ۱۴۰۲ دستور بازسازی اساسـی آن را صادر کرد. به گفته وزارت فواید عامه، مسیر اصلی در شب برای موترهای باربری باز خواهد بود و موترهای کوچک مسافربری می‌توانند از مسیرهای فرعی رفت‌وآمد کنند. سکتور خصوصی بر تکمیل هرچه سریع‌تر این پروژه به منظور تسـهیل در انتقالات کالاهای تجارتي تأکید می‌ورزد. بازسازی این شاهراه که ۸۰ کیلومـتر طول دارد، تاکنون شـامل بخش‌هایی از تونل، برخی گالری‌ها و بخش سـوم خنجان-دوشی بوده که کانکریت‌ریزی و اسفالت شده است.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی





# د لبنياتو د ځان بسياينې پاليسي: د مالدارۍ سکتور د تقويې پر لور مهم گام

زاهد خليلي

## سريزه

افغانستان يو کرنيز هېواد دی. کرنه او مالداري د هېواد د کليوالي او کرنيز اقتصاد د ملاتير جوړوي، چې ميليونونه وگړي په کې بوخت دي. د کرنې او مالدارۍ سکتورونه نه يوازې د کليوالو د اقتصاد له پاره مهم دي، بلکې د هېواد د ملي اقتصاد په پراختيا کې هم مهم رول لوبوي. دا سکتورونه د بزگرانو او مالدارانو له پاره حياتي ارزښت لري، ځکه دوی له دې لارې خپل ژوند ته دوام ورکوي او د دوی د عايد مهمې سرچينې دي. کرنې او مالدارۍ په هېواد کې د بېکارۍ کچې کمولو او کاري فرصتونو په ايجاد کې مهم رول لوبولی دی. غواگانې، پسونه، وزې او نور په کليوالو سيمو کې روزل کېږي او له دې لارې هره ورځ ډېرې شيدې، مستې، پنير او د لبنياتو نورو ډولونه بازار ته وړاندې کوي. لکه څرنگه چې د مالدارۍ سکتور او ترې لاسته راغلي لبنيات د هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لوبوي، اړتيا وه چې داسې يوه پاليسي جوړه شي چې د مالدارۍ سکتور د تقويې تر څنگ د بېکارۍ کچې کمولو کې هم اغېزناکه ثابته شي.

## افغانستان کې د مالدارۍ وضعيت

کرنه او مالداري په افغانستان کې له پخوا څخه دود ده. له کلونو راهيسې د هېواد په کليوالو سيمو کې خلکو کرنه او مالداري کړې او له دې لارې يې خپل ورځنی ژوند پر مخ بيولی دی. اوس هم د هېواد اقتصاد تر ډېره په کرنه او مالدارۍ ولاړ دی. له مالدارۍ سره کرنه څنگ پر څنگ يادېږي، ځکه د هېواد په کليوالو سيمو کې کرنه او مالداري له يو بل سره تړاو لري. که يو څوک کرنه کوي، خامخا به مالداري هم کوي.

د شويو سروې گانو پر بنسټ، مالداري د افغانستان د کرنيز ناخالص داخلي توليد شاوخوا ۱۵سلنه جوړوي. په مالدارانو کې ځينې يې ځايي اوسېدونکي دي چې د څارويو د روزلو له پاره له يو ځای څخه بل ځای ته نه ځي او تل په يوه ځای په کليوالي سيمو کې مېشت وي. بل کوچيان دي چې د موسمونو په تغير له يو ځای څخه بل ځای ته کوچېږي. رسمي شمېرې ښيي چې کوچيان د افغانستان د نفوس شاوخوا پنځه سلنه تشکيلوي او د دوی د عايد يوازينۍ سرچينه همدا مالداري ده، چې له امله يې د هېواد د مالدارۍ او لبنياتو سکتورونه پرمختگ کوي.

د کرنې، اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت د معلوماتو پر بنسټ، په ۱۴۰۰ کال کې په هېواد کې ۵,۸ ميليونه غواگانې موجودې وې. د غواگانو سربېره په هېواد کې شاوخوا څوارلس ميليونه پسونه او مېږې او شاوخوا اته ميليونه وزې هم د مالدارانو له لوري روزل کېږي. د يوې سروې پر بنسټ، په ۲۰۲۱ کال کې د هېواد د مالدارۍ سکتور ارزښت اووه ميليارد ډالر و.

د روسيې او امريکايي اشغال له امله د جگړو، وچکالۍ، د څړ ځايونو د غصب، د طبي وسايلو د کموالي، د کافي او عصري درملو د نه موجوديت او مالدارانو کې د مالدارۍ په اړه د کافي عامه پوهاوي نه موجوديت په گډون ځينې نورې ستونزې د دې لامل شوې چې هېواد کې د مالدارۍ او لبنياتو صنعت له ستونزو سره مخ شي.

د اسلامي امارت له راتگ وروسته هېواد کې د نورو سکتورونو تر څنگ د مالدارۍ او لبنياتو سکتورونو ته توجه وشوه. له اشغال خلاص افغانستان کې د مالدارۍ سکتور په ښه لوري روان دی. مالداري او د لبنياتو توليد زيات شوی او ډېرو هېوادوالو د غواگانو، پسونو او نورو حيواناتو ساتلو ته مخه کړې ده. په هېواد کې د لبنياتو د توليد او پلورلو له پاره د متشبثينو له لوري د شېدو ورکوونکو غواگانو ډېر فارمونه جوړ شوي دي. دغه راز، ډېر غصب شوي څړ ځايونه د اسلامي امارت له لوري له غصب څخه خلاص شوي دي.

د کرنې، اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت د مالدارۍ سکتور د ستونزو د حل له پاره هڅې کوي او په دې اړه د پانگوالو او متشبثينو سره مجلسونه کوي. د اسلامي امارت د هڅو پر بنسټ، د افغانستان د مالدارۍ سکتور د ځان بسياينې په لور چټک گامونه اخلي.

## د لبنياتو اهميت

لبنيات لکه د نورو خوراکي توکو او حيواني محصولاتو په څېر د انسان د روغتيا له پاره ډېر مهم دي او همدا لامل دی چې انسانان يې له ډېرې پخوا څخه کاروي. د لبنياتو ډېر غذايي ارزښت د دې لامل شوی چې په ډېره کچه وکارول شي. شيدې د لبنياتو اصلي سرچينه ده، چې مستې، پنير، کوچ، قروت او نور ډول ډول محصولات ترې جوړېږي. لبنيات ډېر کلسيم، پروتين، ويټامينونه او نور توکي لري، چې د انسان د روغتيا له پاره گټور دي.

لبنيات نه يوازې روغتيايي گټې لري، بلکې په اقتصادي وده او سوداگرۍ کې هم مهم رول لوبوي. هغه هېوادونه چې ډېر حيواني فارمونه لري، کورني توليدات يې زيات وي، هغه بهرنيو هېوادونو ته صادرات کوي. د شيدو د توليد، پروسس او بسته بندۍ له لارې په هېواد کې کاري فرصتونه

ايجادېږي. همداراز، د مالدارۍ صنعت او د لبنياتو توليد د کليوالي اقتصاد پياوړتيا او بېکارۍ کچې کمولو کې مهم رول لوبوي. په وروستيو کلونو کې په هېواد کې د مالدارۍ او لبنياتو سکتورونو د پام وړ پراختيا موندلې ده. اړتيا وه چې د مالدارۍ او لبنياتو سکتور د تقويې او چارو د تنظيم په موخه يوه جامع او هر اړخيزه پاليسي جوړه شي. د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت د اقتصادي کمېسيون په نوبتي غونډه کې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د لبنياتو سکتور د ځان بسياينې پاليسي، د اقتصادي کمېسيون د سپارښتنو په پام کې نيولو سره تاييد کړه.

## د لبنياتو د ځان بسياينې پاليسي

د لبنياتو د ځان بسياينې پاليسي د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت د غوښتنې پر بنسټ د لبنياتو د صنعت د پراختيا له پاره جوړه شوې ده. په وروستيو کلونو کې په هېواد کې يو شمېر سوداګرو په کليوالي او يو شمېر ښاري سيمو کې د مالدارۍ، په ځانګړې ډول د تازه شيدو ترلاسه کولو او پلورلو په موخه د غواګانو فارمونو جوړولو ته مخه کړې ده. له دې امله په هېواد کې د لبنياتو توليد زيات شوی چې هره ورځ په لسګونه زره ليتره شيدې بازار ته وړاندې کېږي او مستې، کوچ، پنير، قروت او نور ترې جوړ او د هېواد په کليوالو سيمو او ښارونو کې پلورل کېږي. د مالدارۍ او لبنياتو سکتورونو د پراختيا له امله يوې پاليسۍ ته اړتيا وه، چې له نېکه مرغه اقتصادي کمېسيون دغه پاليسي تاييد کړه.

د دې پاليسۍ عمده موخې په لاندې ډول دي.

۱- په هېواد کې د لبنياتو د توليد، پروسس او بسته بندۍ د چارو تنظيم؛

۲- د تازه شيدو د توليدوونکو ملاتړ او تقويه؛

۳- صحي او باکيفيته لبنياتو ته د هېوادوالو لاسرسی.

د لبنياتو د ځان بسياينې پاليسي په درې عمده برخو (توليد، پروسس او بازار موندنې) وېشل شوې ده. د توليد په برخه کې د غواګانو له پاره د معياري فارمونو جوړول او پراختيا ورکول، په اغېزناک او مناسب ډول د مصنوعي القاح خدمات وړاندې کول، شيدې ورکوونکو حيواناتو ته مناسب خوراک او د اغېزناکو او مناسبو صحي خدماتو وړاندې کولو تر څنګ ځينې نور اقدامات په کې شامل دي.

د پروسس په برخه کې د لبنياتو د پروسس له پاره د معياري فابريکو او د شيدو راټولولو له پاره د شبکو جوړول، د لبنياتو د کيفيت د کنټرول له پاره د لابراتوارونو جوړول، د شيدو توليدوونکو د اتحاديو جوړول او پراختيا ورکول او هېواد ته د بې کيفيته پوډري شيدو د واردولو مخې نيولو تر څنګ ځينې نور اقدامات په کې راغلي دي.

د بازار موندنې په برخه کې د ملي سټنډرډونو مطابق د لبنياتو توليد، پروسس او بسته بندي، د پسرلنيو او ژمني نندارتونونو جوړول، د توليد، پروسس او بازار موندنې له پاره د معياري زېربناوو جوړول، د خصوصي سکتور ملاتړ او هڅول او د معلوماتي خپرونو جوړولو، وړاندې کولو او ترتيبولو په ګډون ځينې نور اقدامات پکې ذکر شوي دي.

د پاليسۍ پر بنسټ، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د عامې روغتيا وزارت، د صنعت او سوداګرۍ وزارت، ماليې وزارت، د سټنډرډ ملي اداره، د مرکز او ولايتونو ښاروالۍ، د کرنې او مالدارۍ اطاق، غېر دولتي موسسې، د تازه شيدو توليدوونکو او د ملي لبنياتو اتحاديې د دې پاليسۍ عملي کوونکې دي، چې په پاليسۍ کې د هر وزارت او ادارې رول واضح شوی دی.

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ته د دغې پاليسۍ د تطبيق او له اړونده اړخونو سره د فعاليتونو د همغږۍ کولو مسووليت ورسپارل شوی دی. سربېره پر دې، دغه وزارت د يادې پاليسۍ د ټولو تخنيکي برنامو په څارنه هم مکلف شوی دی.

## پايله

د افغانستان د اقتصاد ډېره برخه کليوالي اقتصاد جوړوي. کرنه او مالداري د هېواد د اقتصاد د ملا تير ګڼل کېږي، ځکه لوی اکثريت هېوادوال په يادو سکتورونو کې په کار بوخت دي. د دغو سکتورونو له امله په هېواد کې اقتصادي وده رامنځته شوې او ګڼ کاري فرصتونه يې ايجاد کړي دي. په وروستيو کلونو کې په هېواد کې د مالدارۍ صنعت وده کړې، چې له امله يې د لبنياتو صنعت پراختيا موندلې ده.

د دې له پاره چې په هېواد کې د مالدارۍ او لبنياتو چارې لا ډېرې تنظيم او پراختيا ومومي، نو اړتيا وه، څو د دې له پاره يوه پاليسي جوړه او تطبيق شي. د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت د غوښتنې پر بنسټ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له لوري د لبنياتو د ځان بسياينې پاليسي جوړه چې له تاييد وروسته به عملي شي. د دې پاليسۍ په عملي کېدو سره به د مالدارۍ او لبنياتو صنعت لا نور تقويه او پراختيا ومومي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۶۸,۷۵؋ | ۶۸,۸۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانۍ کلدارې | ۲۳۵؋ | ۲۳۵؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۰,۸۲؋ | ۰,۸۳؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۸,۱۷؋ | ۷۸,۲۳؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۷؋ | ۰,۸۷؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندۍ کلدارې | ۸۰۷؋ | ۸۰۸؋ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ۹۳,۰۶؋ | ۹۳,۱۲؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۸,۳۳؋ | ۱۸,۳۴؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۷۲؋ | ۱۸,۷۳؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۵۴؋ | ۹,۵۵؋ |